له کوچنیو ګناهونو ځان وساتئ

دسهل بن سعد رضی الله عنه څخه روایت دی وایي: چې رسول الله ﷺ فرمایلي: «له کوچنیو ګناهونو ځان وساتئ، ځکه د کوچنیو ګناهونو مثال د هغو خلکو په شان دی چې یوې درې ته ښکته شي، نو یو تن یو لرګی راوړي، بل تن بل لرګی راوړي، تر دې چې ټول سره جمع شي او خپله ډوډۍ پخه کړي، همداسې دا کوچني ګناهونه هم دي، که څوک پرې ونیول شي، نو هلاک به یې کړي».

[صحیح دی] [احمد روایت کړی دی]

نبي کریم ﷺ خلکو ته خبرداری ورکړی چې د کوچنیو ګناهونو په کولو کې بې پروایي ونه کړي، ځکه که دا ګناهونه زیات شي، نو په مجموع کې انسان ته د هلاکت سبب ګرځي، هغه ﷺ د دې لپاره یو مثال بیان کړ: لکه هغه قوم چې یوې درې ته ښکته شي، نو هر یو تن یو کوچنی لرګی راوړي، تر دې چې ټول سره لرګي راجمع کړي او خپله ډوډۍ پرې پخه کړي، همداسې دا کوچني ګناهونه هم دي، که انسان پرې ونیول شي، او توبه ترې ونه کړي، یا ورته الله ﷻ بخښنه ونه کړي، نو دا ګناهونه به یې هلاک کړي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/66224